**د پروپوزلونو د بلنې د وېبپاڼې اعلان**

**په افغانستان، پاکستان او تاجیکستان کښې د بېځایه شویو افغانو ښځو په هکله د پروپوزلونو لپاره سیمه ایزه بلنه**

د ملګرو ملتونو لخوا د ښځو لپاره د امن او بشري مرستو فنډ خوښ دی چې د افغانستان، پاکستان او تاجیکستان لپاره د پروپوزلونو بلنه اعلانوي **د په زوره بېځایو شویو افغانو ښځو او ځوانو مېرمنو د ټولنیزو- اقتصادي پیاوړتیا، ګډون او مخکښۍ د ودې لپاره.**

WPHF لېوال دی چې و هغو وړ ځایی سازمانونو او نوښتګرو اغېزناکو پروژو ته فنډ ورکړي چې په افغانستان، پاکستان او تاجیکستان کښې د په زوره بېځایه شویو افغانو ښځو او نجونو لخوا چلول کېږي یا د هغو لپاره وي، فنډ به په دغو لاندې ورکول کېږي:

- **اداراتی فنډ له 2,500 USD څخه تر 30,000 USD پورې**
په ځایي کچه د مدني ټولنې د هغو سازمانونو اداراتي وړتیا پیاوړي کول چې په خپل هوډ کښې د په زوره بېځایه شویو ښځو او نجونو ته پام کوي، چې داسې پروژې لري چې مخکښې یې د هغو ښځو او ځوانو مېرمنو لخوا کېږي چې په زوره بېځایه شوې وي او/یا دا چې بېځایه شوې ښځې او ځوانې مېرمنې پخپله د عملي په توګه غړیتوب پکښې لري.
- **پروګراماتیک فنډ له 30,000 USD څخه تر 200,000 USD پورې**
د مدني ټولنې د هغو سازمانونو له پروګراماتیکو کارونو سره مالي مرسته کول چې په زوره بېځایه شویو ښځو او ځوانو مېرمنو د ټولنیز- اقتصادي پیاوړتیا، ګډون او مخکښۍ ته په ودې ورکولو کښې برخه اخلي.

د WPHF لخوا د پروپوزلونه بلنه له [Action Network on Forced Displacement – Women as Agents of Change](#) سره تړاو لري چې مخکښې یې د جرمني د اقتصادي او پراختیا فیډرالي وزارت (BMZ) کوي. کومک اخیستونکو ته به بلنه ورکول کېږي چې ایکشن نېټورک په ورته کارونو کښې ګډون وکړي.

**چې عنوان یې وي "[WPHFAPPLICATIONS@UNWOMEN.OR](mailto:WPHFAPPLICATIONS@UNWOMEN.OR)بشپړ درخواست باید دلته ایمېل کړئ**
**WPHF Afghanistan Regional Response (and target country - i.e. Afghanistan, Pakistan or Tajikistan)"**
**د درخواست اخیري نېټه: 31 مې 2022**

له متوقع درخواست ورکونکو سره به په ځایي کچه معلوماتي ناستې ترسره شي. **د خپلې دلچسپۍ د راجستر کولو لپاره لطفاً په اړوند هیواد کښې د یو انی ویمن کنټري افیس ته ایمېل 8 مې 2022 ورولېږئ چې عنوان یې وي "Information Session Afghanistan Regional Response"**

- په افغانستان کښې د معلوماتي سیشن د رجسټر کولو لپاره، لطفاً ایمېل دلته ولېږئ
[evawg.afg@unwomen.org](mailto:evawg.afg@unwomen.org)
- په پاکستان کښې د معلوماتي سیشن د رجسټر کولو لپاره، لطفاً ایمېل دلته ولېږئ
[anum.aftab@unwomen.org](mailto:anum.aftab@unwomen.org)
- په تاجیکستان کښې د معلوماتي سیشن د رجسټر کولو لپاره، لطفاً ایمېل دلته ولېږئ
[tjkpp@unwomen.org](mailto:tjkpp@unwomen.org)

په پراخه توګه یې له هغو خلکو سره شریک کړئ چې تاسې ورسره تماس لرئ او نن درخواست ورکړئ.